رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

# د اِمامِ اعظم مُبارکَ عادتونه

## 15-February-24



هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پہ 15 فروریٔ کال 2024ء د پاکستان پہ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ مُبارک عادتونه

پہ دې بیان کښې بہ تاسو زده کړئ...

- ... د حنفیانو د پاره عظیم الشان زیرے
- ...د اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ مختصر تعارف
- ... د اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ عِلمي شان
- ... د اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ مبارک عادتونه
- ... لس زره يـې مُعاف کړې

پیشکش
اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ (یعنې د زیارت په ورځ د نمر پریوتو نه تر د جُمعې د ورځې د نمر پریوتو پورې) په ما باندې د دُرُودِ پاک کثرت کوئ! څوک چې داسې کوي د قیامت په ورځ به زه د هغه ګواهي ورکووم او شفاعت به یې هُم کووم. [1]

تمنّا ہے فرمایئے روزِ محشر | یہ تیری رہائی کی چِٹھی ملی ہے
شفاعت کرے حشر میں جو رضاؔ کی | سوا تیرے کس کو یہ قُدرت ملی ہے ( 2 )

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے. [3]

---

[1] ...شُعَبُ الْاِیْمَان، باب فی الصلوات، جلد:3، صفحه:111، حدیث:3033۔
[2] ...حدائقِ بخشش، صفحه:188 ملتقطًا۔
[3] ...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ! د بيان اوريدو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ په اَدب به کښينم ❁ ښه په توجُّه به بيان اورم ❁ څه چې واورم، د هغې به د يادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حنفيانو د پاره عظيم الشان زيرے

د کروړونو حنفيانو امام، اِمامِ اعظم ابو حنيفه رحمۃُاللہِعلیہ په خپل ژوند مبارک کښې 55 حجونه کړي وو، چې کله هغوئي په آخري ځل د حج سعادت حاصل کړو نو د هغوئي په خواهش د کعبې خادمانو د کعبې شريفې دروازه برسيره کړه، هغوئي په عاجزئ سره دننه لاړلو او د کعبې شريفې د دوو ستنو ترمينځه اودريدو او په دوو رکعتونو کښې يې ټول قرآنِ پاک ختم کړو. د نمونځ او تلاوت نه چې فارغ شو نو هغوئي تر څه وخته پورې په ژړا ژړا د الله پاک په بارګاه کښې دعاګانې اوکړې، هغوئي لا په دعا کښې مشغول وو چې د کعبې شريفې د يو کوټ نه آواز راغے، تا په ښه طريقه زمونږه معرفت (يعنې پيژندګلو) حاصله کړه او په خلوص سره دې عبادت اوکړو، **مونږ ته اوبخښلې او تر قيامته پورې چې څوک ستا په مذهب وي (يعنې ستا تقليد کوي) هغه مې هم اوبخښل.** [(1)]

اے د اِمامِ اعظم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِله! مونږه څومره خوش قِسمته يو چې د حضرت اِمامِ اعظم رحمۃُاللہِعلیہ لـمن مو نيولې ده، اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د دې کرم د لـمن په وسيله به په قبر او حشر کښې، د قيامت په ورځ، په پل صراط باندې ضرور کرم کيږي او که الله پاک اوغوښتل نو د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم په شفاعت سره به په اِمامِ

---

1...ردالمحتار علی الدر المختار، مطلب: یجوز تقلید المفضول مع وجود الافضل، جلد:1، صفحہ:126 ملتقطًا۔

اعظم پسي شاته شاته جنّت ته داخل شو.

مروں شہا! زیرِ سبز گنبد، ہو مدفن آقا بقیعِ غرقد | کرم برائے رسولِ اکرم، اِمامِ اعظم ابو حنیفہ! (1)

## اولیاؤ ته اِلـهام کیږي

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیه چې د کعبې شریفې د کوټې نه آواز واوریدو، دې ته اِلـهام وئیلے شي. اِلـهام هغه رښتونے عِلم وي کوم چې **الله** پاک د خپلو بندګانو په زړونو کښې د غیبو نه اچوي او بعضې ځل داسې کیږي چې فرښته د وَلِیُّ الله سره خبرې کوي. (2) په قرآنِ کریم کښې دي:

اِنَّ الَّذِیۡنَ قَالُوۡا رَبُّنَا اللّٰہُ ثُمَّ اسۡتَقَامُوۡا تَتَنَزَّلُ عَلَیۡہِمُ الۡمَلٰٓئِکَۃُ اَلَّا تَخَافُوۡا وَ لَا تَحۡزَنُوۡا وَ اَبۡشِرُوۡا بِالۡجَنَّۃِ الَّتِیۡ کُنۡتُمۡ تُوۡعَدُوۡنَ ﴿۳۰﴾ (پاره:24، حٰمٓ السَّجۡدَة:30)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بیشکه کومو خلقو چې اُووئیل: زمونږه رب **الله** دے بیا (په دې) ثابت قدمه پاتې شول په هغوئي فرښتے راکوزیږي (او وائي) چې تاسو مه ویریږئ او مه غم کوئ او په هغه جَنَّت خوشحاله شئ د کوم به چې تاسو سره وعده کیدله (۳۰)

د دې آیت مبارک نه معلومه شوه چې هغه نیکان مسلمانان څوک چې ایمان راوړي، په دې باندې استقامت اختیار کړي او د دې تقاضې پوره کړي، په هغوئي باندې فرښتې نازلیږي، هغوئي ته زیرې اوروي. علمائے کرامو د دې آیت نه د اولیائے کرامو اِلـهام ثابت کړے دے. (3)

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:574۔
2...الیواقیت والجواہر، المبحث السادس والاربعون فی بیان وحی...الخ، صفحہ:342 خلاصۃً۔
3...الیواقیت والجواہر، المبحث السادس والاربعون فی بیان وحی...الخ، صفحہ:344 خلاصۃً۔

# په وحي او اِلــهام کښې فرق

یاد ساتئ! وحي هُغه وي کومه چې انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ته راځي او اِلــهام هغه وي کوم چې اولیائے کرامو ته کیږي، په دې کښې په ډیر قِسمه فرق دے. **(1):** په وحي کښې شرعي احکام هم بیانیږي، خو اِلــهام کوم چې اولیائے کرامو ته کیږي، په دې کښې شرعي احکام نه وي، صرف زیري وي یا بیا دوئي ته څه غیبي خبره کولے شي یا بعضې ځل چې اولیائے کرامو ته په څه قرآني آیت یا حدیث شریف وغیره پوهیدو کښې مشکل پیښ شي نو هغوئي د اِلــهام په ذریعه پوهه کړے شي. **(2):** نبي عَلَيْهِ السَّلَام وحي راوړونکې فرښته ویني خو وَلِيُّ الله اِلــهام کوونکې فرښته نه ویني صرف غیبي آواز اوري یا د عِلم خبره د هغوئي په زړهٔ کښې اچولے شي. **(3):** وحي شرعاً دلیل وي خو اِلــهام د دغې درجې دلیل نه دے. [1] مثلاً صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ته په قرآنِ پاک کښې جنّتي فرمائیلے شوي دي، لِهٰذا صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم یقیني جنتیان دي خو مونږه اوس روایت واوریدو چې د اِمام اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تقلید کوونکو د پاره د اِلــهام په ذریعه د بخښني زیرے ورکړے شو، د دې نه دا نښي وئیلے چې څوک هم حنفي دے هغه یقیني جنّتي دے، آؤ! د دې اِلــهام په وجه د **الله** پاک د رحمت نه ښه طمع ساتلے شي چې اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! چې څوک د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لــمن اونیسي، رَبِّ کائنات به په خپل کرم سره هغه اوبخښي.

یاد ساتئ! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو آخري نبي دے، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس به تر قیامته پورې هیڅ نوے نبي نه راځي، نه به چا ته د نبوت والا وحي راځي.

---

[1] ...الیواقیت والجواہر، المبحث السادس والاربعون فی بیان وحی...الخ، صفحہ:342-344 خلاصۃً۔

شہِ انبیا ہے، خُدا کا ہے پیارا — وہ نبیوں میں سُن لو! نبی آخری ہے
مُحَمَّد ہے احمد، ہے سلطانِ بطحا — وہ نبیوں میں سُن لو! نبی آخری ہے

*—*—*—*

مُحَمَّدِ مصطفٰے! — سب سے آخری نبی! — احمدِ مجتبٰی! — سب سے آخری نبی!
آمنہ کا لاڈلا! — سب سے آخری نبی! — شاہِ ہر دوسرا! — سب سے آخری نبی!

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ مختصر تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د سِراجُ الاُمَّه (يعني د اُمَّت روښانه نـمر)، اِمامُ الاَئِمَّه (يعني د امامانو امام) حضرت اِمامِ اعظم ابو حنيفه رحمۃ اللہ علیہ مبارک نوم نعمان، د هغوئي د والد صاحب نوم: ثابِت او کُنيت: ابو حنيفه دے، داسې د هغوئي پوره نوم: ابو حنيفه نعمان بن ثابت دے. اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ په 80 هجرئ کښې د عراق په مشهور ښار کوفه کښې دنيا ته تشريف راوړو او د اوياؤ کالو عمر کښې په دويم شَعبَانُ الـمُعَظَّم 150 هجرئ کښې وفات شو. د هغوئي مزار مبارک په بغداد شريف کښې دے. (1)

اميرِ اهلسنت دامت برکاتہم العالیہ د اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ شان بيانولو کښې ليکي:

ہو نائبِ سرورِ دوعالم، اِمامِ اعظم ابو حنیفہ! — سراجِ اُمّت فقیہِ اَفخم، اِمامِ اعظم ابو حنیفہ!
ہے نام نُعمان اِبن ثابِت، ابو حنیفہ ہے ان کی کُنیت — پکارتا ہے یہ کہہ کے عالم، اِمامِ اعظم ابو حنیفہ! (2)

وضاحت: اِمامِ اعظم امام ابو حنيفه رحمۃ اللہ علیہ په علم او حکمت کښې د رسولُ الله

[1]...تاریخِ بغداد، جلد:13، صفحہ:331، اشکوں کی برسات، صفحہ:2 ملتقطًا۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:573۔

صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم نائب دے، د اُمّت د پاره روښانه نـمر دے، ډير ماهر مفتي او عالِمِ دِين دے.

**صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب!   صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د اِمامِ اعظم حُليه مباركه

**اے د اِمامِ اعظم عاشقانو!** زمونږه امام، اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ ❀ ښکلي مخ والا وو ❀قد مبارک يـې درميانه وو ❀ هغوئي ډير عقلمند وو، د هغوئي د چال ډهال او عادتونو او انداز نه عقلمندي ظاهريدله ❀ جامې مبارکې به يـې صفا سوتره ساتلې ❀ ډير کَرم فرمائيلو والا وو ❀ د خپلو مسلمانانو ورونړو مدد به يـې فرمائيلو ❀ ډير لوئي عابِد ❀زاهِد (يعني د دُنيا نه بے رغبتي لرونکے) ❀ د **الله** پاک معرفت لرونکے ❀ د **الله** پاک نه ډير ويريدونکے ❀ هميشه د **الله** پاک رضا لټوونکے وو. (1)

## د نعمان نوم وضاحت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږه د امام اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ پاک نوم **نعمان** دے. علمائے کرامو د دې نوم درې معنې او د دې حکمتونه بيان فرمائيلي دي. علّامه اِبنِ حجر هَيتَمِي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: **(1):** نعمان وينې ته وئيلے شي او وينه د **الله** پاک هغه نعمت دے په کومې چې ژوند قائم دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ د خپل نوم مطابق هغه عظيمُ الشانه هستي ده چې د هغوئي په لـه وجهې تر قيامته پورې عِلمِ فقه (يعني د اِسلامي حکمونو او مسئلو عِلم) قائم دے. **(2):** يو د سور رنګ خوشبودار بوټے وي، **هغې ته هم نعمان وئيلے شي.** (2) اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې معنې نظاره هم د اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ په شخصيت

---

[1]... تاريخِ بغداد، جلد:13، صفحه:331-339 ملتقطاً۔

[2]... الخيرات الحسان، الفصل الرابع، صفحه:31۔

او کردار کښې پوره پوره ظاهره ده. ❁ د الله پاک په فضل سره اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ هغه شخصيت دے چې د هغوئي د عِلم، د هغوئي د ديني خدمتونو خوشبوئي تر اوسه پورې په دُنيا کښې خوره ده ❁ هغوئي هُم هغه باکماله هستي ده چا چې د قرآني آيتونو او حديثونو نه د عِلم لعلونه راويستل او اُمَّت له يې ورکړل ❁ د قرآن او حديث په رڼا کښې يې داسې اُصُول مقرر کړل چې د صدو تيريدو باوجود نن هم چې اُمَّت ته څه نوې قِسم مسئله راپيښه شي نو د اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ د جوړ کړے شوو اُصولو په مدد سره د هغې حل د قرآن او سُنّت نه ميلاويږي ❁ د کروړونو شافعيانو امام، د خپل وخت ډير لوئي مُحَدِّث او ډير لوئي عالِم امام محمد شافعي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: خلق په فقه (يعني د قرآن او حديث په صحيح پوهه حاصلولو) کښې د اِمامِ اعظم محتاج دي. [1] (3): علّامه اِبنِ حجر هَيتَمِي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د نعمان دريمه معنیٰ ده: نعمت. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ د مخلوق د پاره د الله پاک ډير لوئي نعمت دے. [2] ❁ هغوئي شپه ورځ محنت کولو ❁ د عيش او عشرت نه يې ځان ساتلو ❁ د دنيائي خوندونو نه يې مخ اړولے وو ❁ خوب يې قربان کړے وو ❁ تهوله تهوله شپه او تهوله تهوله ورځ به په ديني کار کښې مصروف اوسيدلو ❁ خپل ټول صلاحيتونه ❁ خپل عِلم ❁ خپل عقل ❁ خپله پوهه يې د اُمَّت د راهنمايئ او خير خواهئ د پاره اولګوله ❁ هغوئي د خپل ژوند ډيره لويه موده د اُمَّت په راهنمايئ او خير خواهئ کښې تيره کړه او د خپل عِلم رڼا يې داسې خوره کړه چې نن هم لوئي لوئي مفتيان، لوئي لوئي عالـمان، لوئي لوئي مُفَکِّران، لوئي لوئي مُحَدِّثين، لوئي لوئي مُفَسِّرين د هغوئي د خورې شوې رڼا په ذريعه په قرآن او حديث ځان پوهه کوي، د اُمَّت رهنمائي [لار ښودنه] کوي او د صحيح لار رو مُسافِر جوړيږي.

---

[1]...تاريخ بغداد، جلد:13، صفحه:645۔

[2]...الخيرات الحسان، الفصل الرابع، صفحه:31۔

## د هر نـمونځ نه پس دُعا کوئ!

علّامه خطيب تبريزي رحمۃُ اللہ علیه ليکلي دي: آئمهِ زُهد (يعني د تصوف او طريقت امامان) فرمائي: په اهلِ اِسلام باندې لازم دي چې د خپلو نـمونځونو نه پس د اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہ علیه د پاره دُعاګانې کوي ځکه چې اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہ علیهم هُغه عظيمه هستي ده چا چې د اُمَّت خير خواهي کړې ده او د سُنّت او د عِلمِ فقه حفاظت يې فرمائيلے دے. (1)

## اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیه تابعي دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! زمونږه امام، اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہ علیه تابعي دے يعني هغوئي ❁ د حضرت انس بن مالِک ❁ حضرت عبد اللّٰه زُبيدي ❁ حضرت جابِر بن عبد اللّٰه ❁ حضرت مَعقَل بن يَسَار رضی اللہ عنہم وغيره صحابهٔ کرامو زيارت هم کړے دے او په هغوئي کښې يې د يو څو نه حديثونه هم اوريدلي دي. (2) او د تابعي څومره ښکلے شان دے؟ قرآني آيت واورئ! اللّٰه پاک فرمائي:

وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۱۰۰ (پاره:11، اَلتَّوْبَه:100)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الْعِرفان: او نور هُغه کوم چې نيکئ سره د هغوئي تابعداري کوونکي دي د هغوئي ټولو نه اللّٰه راضي شو او هغوئي د اللّٰه نه راضي دي او هغه د هغوئي د پاره باغونه تيار کړي دي د کومو لاندې چې نهرونه بهيږي هميشه هميشه به په هغې کښې اوسيږي، هُم دا لويه کاميابي ده (۱۰۰)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہ علیه د

---

1...الخيرات الحسان، الفصل الثالث عشر، صفحه:46۔

2... تبیض الصحیفه بمناقب ابی حنیفه، ذکر من ادرکه من الصحابه، صفحه:33 ملتقطًا۔

دې آيت مبارک خلاصه بيانولو کښې ليکي: يعني اے محبوبه صلَّى الله عليهِ وآلهٖ وسلَّم ! ستاسو په صحابۂ کرامو رضی اللہ عنہم کښې راتلوني مهاجرين او اَنصار او هُغه خلق کوم چې په نيکو کښې د هغوئي پيروي اوکړي (مثلاً تابعينِ کرام رحمۃُ اللہِ علیہم) د هغوئي شان دا دے چې **الله** پاک د هغوئي نه راضي شو او هغوئي د **الله** پاک نه راضي شول (چې **الله** پاک هغوئي په غريبئ، مالدارئ، صحت، بيمارئ وغيره په کوم حال کښې ساتي، هغوئي د هغه نه راضي دي، چرې هم د څه خيز شکايت نه کوي) **الله** پاک د هغوئي د پاره داسې جنتونه تيار کړي دي، د کومو د لاندې چې وَلې [يعني نِهرونه] بهيږي، هغوئي به په هُغه جنتونو کښې هميشه هميشه اوسيږي، دا نعمتونه ميلاويدل هُم ډيره لويه کاميابي ده. [(1)]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د نيکانو صالِحانو تابعينو...!! اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه امام اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ هُم داسې دے، هغوئي د صحابۂ کرامو رضی اللہ عنہم بهترينه پيروي اوکړه، د هغوئي نه يې عِلمِ دِين زده کړو، د هغوئي په نقشِ سِيرت باندې تللو، د صحابۂ کرامو رضی اللہ عنہم نه يې راهنمائي حاصله کړه او ټول ژوند يې په عبادت او رياضت او د دِين په خدمت کښې تير کړو، هميشه د **الله** پاک نه راضي اوسيدو، کله هُم په هيڅ حالت هغوئي څه ګيله نه وه کړې، بس د **رحمان** او **رحيم رَبّ** د رضا طلبګار اوسيدو، لهٰذا اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! **الله** پاک د هغوئي نه راضي دے او اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هغوئي جنّتي دے بلکې که **الله** پاک اوغوښتل نو د هغوئي په وسيله به مونږه ګنهګاران هم اوبخښلے شو.

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو اَهَم وضاحت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږه اوس د يولسمې سيپارې، سورۂ توبه آيت: 100

---

1... تفسیرِ نعیمی، پارہ:11، التوبہ، زیرِ آیت:100، جلد:11، صفحہ:28بتغیر قلیل۔

واوريدو. د دې آيت مبارک سره يوه غلط فهمي هم کيدے شي چې کومو خلقو د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم زيارت اوکړو، په هغوئي کښې بعضې ډير بدبخته شوي هم دي، لکه يزيد پليد دا د صحابئ رسول ځوي وو، هغه د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم زيارت هم کړے دے نو آيا دے به هم په دې آيت مبارک کښې د بيان کړے شوو فضيلتونو حق دار وي؟ ځکه وضاحت کووم چې داسې نه ده چې هر هغه ګس بخښلے شوے دے چا ته چې د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم صحبتونه نصيب شوي دي، بلکې په دې آيت مبارک کښې **الله** پاک دوه شرطونه کيښودې دي، ارشاد يـې اوفرمائيلو:

وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ
(پارہ:11،اَلتَّوْبَہ:100)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ الْعِرفان: او نور هغه کوم چې نيکئ سره د هغوئي تابعداري کوونکي دي.

د آيت مبارک د دې الفاظو وضاحت کښې مفسرينِ کرام فرمائي: د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم صرف پيروي کول د نجات د پاره کافي نه ده، صرف پيروي خو منافقانو هم کوله، بلکې د هغوئي اِتّباع د احسان سره پکار ده، د احسان معنیٰ ده: ❀ هغوئي ته ښه وئيل ❀ ښه ګڼل ❀ ښه منل. يعني ❀ بنده په خُله باندې د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم تعريف کوي او ❀ د زړۀ نه يـې ښه ګڼي او مني ❀ او د هغوئي اِتّباع کوي. احسان په صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم کښې او په عامو مسلمانانو کښې فرق اوکړو چې د هغوئي نه **رَبِّ** کريم مطلقاً راضي دے چې يعني هغوئي سابق او اَوَّل دي. پاتې شو مونږ خلق نو زمونږ نه به **رَبّ** په دوو شرطونو راضي کيږي: **(1):** يو دا چې هغوئي خپل متبوع يعني پيشوا اومنو او **(2):** دويم دا چې صحابۀ کرام رضی اللہ عنہم په حق باندې اوګڼو، هغوئي نيکان، متقيان پرهيزګاران اومنو، په هغوئي کښې عيبونه نه راوباسو. سُبْحٰنَ الله! د دې نه معلومه شوه چې تر قيامته پورې هُم هغه مسلمانان په حقه دي کوم چې د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم پيروکار او د هغوئي ثناخوانان، د هغوئي ذکرِ خير کوونکي دي، صرف هُم هغه

جنتیان دي، رَبِّ کریم د هغوئي نه راضي دے.

اللّٰه! اللّٰه! چې اللّٰه پاک د صحابهٔ کرامو د غلامانو نه راضي دے نو پخپله به د هغوئي نه څومره راضي وي...!! (1) څکه خو امیر اهلسنّت دامت برکاتہم العالیہ لیکي:

کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا اَصحاب و اَہلِ بیت کا
ہے خُدائے مصطفٰے اَصحاب و اَہلِ بیت کا
میری جھولی میں نہ کیوں ہوں دو جہاں کی نعمتیں
میں ہوں منگتا، میں گدا اَصحاب و اَہلِ بیت کا
یا اِلٰہی! شکریہ عطّار کو تُونے کیا
شعر گو، مدحت سرا اَصحاب و اَہلِ بیت کا (2)

*—*—*—*

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابئ نبی! | جَنَّتی! جَنَّتی! | تولې صحابیاني هُم! | جَنَّتی! جَنَّتی! |
| څلور یاران د نبی! | جَنَّتی! جَنَّتی! | حضرت صدیق هُم! | جَنَّتی! جَنَّتی! |
| حضرتِ فاروق هُم | جَنَّتی! جَنَّتی! | عثمانِ غنی! | جَنَّتی! جَنَّتی! |
| فاطمه او علی! | جَنَّتی! جَنَّتی! | حسن او حسین هُم! | جَنَّتی! جَنَّتی! |
| والدَین د نبي! | جَنَّتی! جَنَّتی! | تولې بیبیاني د نبی! | جَنَّتی! جَنَّتی! |
| دے ابوسُفیان هُم | جَنَّتی! جَنَّتی! | او معاویه هُم! | جَنَّتی! جَنَّتی! |

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

1... تفسیرِ نعیمی، پارہ:11، التوبہ، زیرِ آیت:100، جلد:11، صفحہ:30-31 ملتقطاً۔

2... وسائلِ فردوس، صفحہ:35-36 ملتقطاً۔

## څلور واړه آئِمه برحق دي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عِلمِ فقه (یعني د دیني حکمونو او مسئلو) څلور امامان دي (1):اِمامِ اعظم (2): امامِ مالِک (3): امام احمد بن حنبل او (4): امام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہم. د دوئي په خپل مینځ کښې په دِیني احکامو کښې اختلافات ضرور دے، البته د ټولو عقیدې بالکل صحیح وې، ټول سُنّیان، صحیح العقیده، رښتوني عاشقانِ رسول وو، د دې ټولو په باره کښې په حدیثونو کښې زیرې راغلي دي، مثلاً رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: یوه زمانه به راشي، خلق به عِلم لټوي خو د عالِـمِ مدینه نه زیات عِلم والا به دوئي ته څوک نه میلاویږي. [1] په دې **حدیثِ پاک** کښې **د عالِـمِ مدینه نه مُراد امامِ مالِک** رحمۃُ اللہِ علیہ **دے.** [2] په یو **حدیثِ پاک** کښې یې فرمائیلي دي: د قریشو یو عالِم به زمکه د عِلمِ دین نه ډکه کړي. [3] په دې **حدیثِ پاک** کښې **د قریشو د عالِم نه مُراد امامِ شافعي** رحمۃُ اللہِ علیہ **دے.** [4] هم دغه شان په یو **حدیثِ پاک** کښې دي: که عِلم په ثُرَیّا (ستوري) باندې هم وي نو د فارِس خلق به دا حاصل کړي. [5] محدِّثِینِ کرام فرمائي: په دې حدیث شریف کښې **د فارسي خلقو نه اِمامِ اعظم اِمامِ ابو حنیفه** رحمۃُ اللہِ علیہ **مُراد دے.** [6]

اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ علیہ څه ښکلي وئیلي دي:

---

1 ...ترمذی، بواب العلم، باب ما جاء فی عالم المدینه، صفحه:631، حدیث:2680 بتغیر قلیل۔

2 ...تبیض الصحیفه بمناقب ابی حنیفه، ذکر تبشیر النبی صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به، صفحه:31 بتغیر قلیل۔

3 ...حلیة الاولیاء، جلد:6، صفحه:322، حدیث:8787 ملتقطًا۔

4 ...تبیض الصحیفه بمناقب ابی حنیفه، ذکر تبشیر النبی صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به، صفحه:32 بتغیر قلیل۔

5 ...حلیة الاولیاء، جلد:6، صفحه:64، حدیث:7801۔

6 ...تبیض الصحیفه بمناقب ابی حنیفه، ذکر تبشیر النبی صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به، صفحه:32 بتغیر قلیل۔

شافعی مالک احمد امامِ حَنیف | چار باغِ امامت پہ لاکھوں سلام [1]

وضاحت: د فقه په څلورو واړو آئِمه کرامو: (1): امام شافعي (2): عالِمِ مدینه امام مالک (3): امام احمد بن حنبل او (4): اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہ علیھم، د امامت په دې څلور واړو باغونو باندې دې د درود او سلام خوشبو خوروونکې ګلونه قربان وي.

## د اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ علمي شان

حضرت اَزهَر بن کیسان رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: یو ځل زما بخت رابیدار شو، ما ته په خوب کښې د نبیانو د نبي، رسولِ هاشمي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم زیارت نصیب شو، شخینِ کریمین یعنې حضرت ابو بکر او حضرت عمر رضی اللہ عنھما هم ورسره وو، ما د حضرت ابو بکر او حضرت عمر رضی اللہ عنھما په خدمت کښې عرض اوکړو: زه د رسولِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم نه څه پوښتنه کول غواړم؟ اوئې فرمائيل: پوښتنه اوکړه خو آواز ټیټ ساته. ما په اَدَب سره په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: (یا رسولَ اللہ صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم !) د ابو حنیفه د عِلم په باره کښې څه ارشاد دے؟ اوئې فرمائيل: هٰذَا عِلْمٌ اِنْفَتَحَ مِنْ عِلْمِ خِضْر یعنې د ابو حنیفه عِلم هغه دے کوم چې د حضرت خضر علیہِ السَّلام د عِلم نه راوتے دے. [2]

سُبْحٰنَ اللہ! څومره ښکلے شان دے زمونږه د اِمام، اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہ علیہ ...!! د حضرت خضر علیہِ السَّلام عِلم څنګه دے؟ دا هُم واورئ! اللہ پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَعَلَّمْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿۶۵﴾ (پارہ:15، اَلْکَھف:65) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: او هغه ته مو خپل عِلمِ لَدُني عطا کړو. |

1...حدائق بخشش، صفحه:314۔

2...الخیرات الحسان، الفصل السادس و الثلاثون، صفحه:96 ملتقطًا۔

معلومه شوه چې د حضرت خضر عَلَيهِ السَّلام عِلم، عِلمِ لَدُنِّي (يعني د الله پاک د طرف نه عطا کړے شوے خاص عِلم) دے، اِمامِ ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ته هم د دې عِلم نه حصه ميلاؤ شوې ده، لهٰذا **د هغوئي عِلم هُم** عِلمِ لَدُنِّي **دے.**

سِراج تو ہے بغیر تیرے جو کوئی سمجھے حدیث و قرآں

پھرے بھٹکتا نہ پائے رستہ اِمامِ اعظم ابو حنیفہ [1]

**وضاحت:** د **الله** پاک د جناب نه تاسو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ته داسې عِلم ميلاؤ شوے دے د کوم په وجه چې تاسو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د آسمانِ عِلم ځليدونکے ستورے يئ، ستاسو د رڼا نه بغير چې څوک په قرآن او حديث باندې د پوهيدو کوشش کوي هغه به بے لارې شي او داسې به بے لارې شي چې هډو لار به نه مومي.

## ابو حنيفه خومره ښه انسان دے...!!

حضرت مُسَدَّد بن عبد الرحمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: ما به په خلقو کښې د ټولو نه زيات امام ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه بد ګڼلو، يوه ورځ په ما باندې ګرم اوشو، زما په خوب کښې محبوبِ رحمان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړو، ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د کوفې يو کَس چې هغه ته نعمان بن ثابِت وائي، د هغه په باره کښې څه حکم دے؟ زه د هغه نه عِلم زده کړم؟ اوئې فرمائيل: د هغه نه عِلم هم زده کړه او د هغه د اعمالو (يعني سيرت او کردار) پيروي هم کوه! نور يې اوفرمائيل: فَنِعْمَ الرَّجُلُ هُوَ يعني **ابو حنيفه خومره ښه انسان دے...!!** حضرت مُسَدَّد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: زه چې رابيدار شوم نو ما د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د بد ګڼلو نه توبه کړه. [2]

---

1 ...دیوان سالک، صفحہ:96۔

2 ...الخیرات الحسان، الفصل السادس والثلاثون، صفحہ:97 ملتقطاً۔

## د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو څو مُبارَک عادتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه واوریدل چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت مُسَدّد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته په خوب کښې تشریف راوړلو او اوئې فرمائیل چې د ابو حنیفه نه عِلم هُم زده کړه او د هغوئي په سیرت، د هغوئي په کردار او د هغوئي په عادتونو کښې د هغوئي پیروي هم کوه ځکه چې **ابو حنیفه ډیر ښه انسان دے.** راځئ چې مونږه د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د یو څو پاکو عادتونو او ښکلي ښکلي سیرت په باره کښې یو څو خبرې واورو او په دې نِیّت یـې واورو چې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې خبرو اختیارولو او د ښه انسان جوړیدو کوشش به کوو.

## د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پاک عادتونه

د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خاص شاګرد امام ابو یوسُف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **(1):** اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د حرامو کارونو نه همیشه ځان ساتلو **(2):** د عِلمِ دِین نه علاوه د نورو خبرو کولو نه به ویریدلو **(3):** ډیره زیاته مجاهده به یـې کوله (یعنې د نیکو کارونو ډیر کوشش به یې کولو) **(4):** د دُنیادارو به یـې د هغوئي په مخکښې تعریف نه کولو **(5):** اکثر به خاموش اوسیدو **(6):** په دیني مسئلو کښې به یـې غور او فِکر کولو **(7):** ډیر ساده او نرم طبعیت والا وو **(8):** د هغوئي نه چې به چا پوښتنه کوله نو د قرآن او حدیث نه به یـې د هغې جواب لټولو **(9):** په طبیعت مبارک کښې یـې لالچ نه وو **(10):** او د چا چې به هُم ذِکر کیدو، د خیر نه علاوه به یـې هیڅ هم نه فرمائیل. [1]

---

[1]...الخیرات الحسان، الفصل الرابع والعشرون، صفحه:82 ملتقطًا۔

# د غیبت نه به لرې اوسیدو

د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو پاک صفت دا هُم وو چې هغوئي به د چا غیبت نه کولو، تر دې پورې چې هغوئي د خپل دښمن هُم چرې غیبت نه دے کړے. یو ځل حضرت عبد الله بن مبارک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حضرت سفیان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته اووئیل: امام ابو حنیفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د غیبت نه ځان څومره ساتلو...!! ما اوریدلي دي چې هغوئي به د خپل دښمن غیبت هم نه کولو. حضرت سُفیان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اووئیل: په **الله** پاک مې دې قَسم وي! اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیر زیات عقل مند وو، بیا هغوئي داسې څنګه کولے شو چې خپلې بیش بها نیکئ يې د غیبت په ذریعه ضائع کړے وے. (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! څومره ښکلے کردار دے...!! لږ تصور خو اوکړئ! اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کله د خپل دښمن غیبت هُم نه وو کړے، اَللهُ اَکْبَر! څومره عظیمه تقویٰ ده. بیا غور اوکړئ! هغوئي به غیبت ولې نه کولو؟ ځکه چې هغوئي عقلمند وو، هغوئي ته معلومه وه چې نیکئ کول آسان کار نه دے، د نیکئ کولو د پاره نفس او شیطان قابو کول وي، خواهشونه پریښودل وي، خوب قربانول وي، په داسې مشکله باندې ګټلے شوې نیکئ انسان د غیبت په یو څو جملو ضائع کړي؟ دا د کوم ځائے عقلمندي ده، ځکه به هغوئي د غیبت نه ځان ساتلو.

آه! نن سبا ماحول ډیر اُلټا پلټا دے، زمونږه په معاشره کښې خو چې څوک ډیر غیبتونه کولو والا وي، هغه ډیر هوښیار ګڼلے شي ❁ بعضې خلق چې په دُکان کښې کښیني نو غیبت ❁ که په کور کښې کښیني نو غیبت ❁ که دوستانو سره کښیني نو غیبت ❁ افسوس! نن سبا خو داسې ماحول دے چې خلق د خپل مور پلار په غیبت

---

1... تبیض الصحیفه بمناقب ابی حنیفه، ذکر نبذ من اخباره ومناقبه، صفحه:110۔

کولو هم نه شرمیږي، بس مسلسل خبرې کوي ❁ کله د خوئیندو وروڼو غیبت ❁ کله د دوستانو غیبت ❁ کله د ګاونډیانو غیبت ❁ کله ځان سره د کار کوونکو غیبت ❁ هُم دغه شان چغلیاني هُم کوي ❁ په خلقو باندې تورونه لګوي او په خوند خوند د هغوئي خبرې اوریدونکي ❁ د هغوئي په ګناهونو کښې برابر شریکیدونکي، د هغوئي د ګناهونو نه دا ډکې خبرې اوري او دا ګڼي چې: واه! څومره هوښیار او د خلقو د طبیعت نه خبردار کس دے، د خلقو د رګ رګ نه خبر دے...!!

آه! د خلقو د رګ رګ نه خبر دے که نه، البته داسې ګس د شیطاني چلونو نه هیڅکله خبر نه دے، که د نفس او د شیطان د تباهئ نه خبر وے نو داسې غیبتونه، چغلیاني او تورونه به یې هیڅکله هم نه لګول. یقیناً په اصل کښې عقلمند، په اصل کښې هوښیار چالاک هُم هغه دے څوک چې نفس او شیطان له شکست ورکړي او د ګناهونو نه ځان بچ ساتي.

## د غیبت په باره کښې دوه حدیثونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! یقین اوکړئ! غیبت، چغلي، الزامونه لګول، دروغ وغیره دا ډیر زیات د تباهئ او بربادئ والا ګناهونه دي، مونږ له د دې نه هر وخت ځان ساتل پکار دي. (1): زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څلور قِسمه دوزخیان کوم چې به په حَمِیم او جَحِیم (یعنې د خوټکیدلو اوبو او وور) ترمینځه منډې وهي او وَیل وثُبُور (یعنې هلاکت) به غواړي. په هغوئي کښې به یو ګس هغه وي کوم چې به خپلې غوښې خوري. دوزخیان به وائي: په دې بد بخته باندې څه اوشو زمونږه تکلیف زیاتوي؟ وبه وئیلے شي: دې **بد بخته** به د خلقو غوښې

خوړلې (يعنې غيبت به يې کولو) او چغلي به يې کوله.[1] (2): په يو **حديث شريف** کښې دي: د دواړو جهانونو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: زه د معراج په شپه د يو قوم په خوا تيريدم کومو چې خپل مخونه او سينې د تانبې [اوسپنې] په نوکانو راشوکول. ما پوښتنه اوکړه: اے جبرئيله! دا کوم خلق دي؟ اوئې وئيل: دوئي به د خلقو غوښې خوړلې (يعنې غيبت به يې کولو) او د هغوئي عزّت به يې خرابولو.[2]

د غيبت د تفصيلي معلوماتو د پاره د **امیرِ اهلسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه کتاب **غیبت کی تباہ کاریاں** اولولئ، درس ترينه ورکړئ. دا کتاب د مکتبة المدينه نه په قيمت واخلئ يا يې د ***Islamic Books Library*** نه مفت ډاؤن لوډ کړئ.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## لس زره ما مُعاف کړې

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اِمامِ اعظم اِمامِ ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير سخي وو، د هغوئي عادت مبارک وو ✿ خومره مال چې به يې په خپل بال بچ باندې لګولو، هم هغه همره به يې صدقه کولو ✿ کله به يې چې نوې جامې اغوستلې نو د هغه همره قيمت کپړه به يې عالمانو له هم اخستله ✿ چې کله به هغوئي ته ډوډئ کيښودے شوه نو چې خومره به يې پخپله خوړله، هُم هغه همره به يې په چا غريب هُم خوړله.[3]

يو ځل د هغوئي نه چا لس زره (درهمه يا دِيناره يعني د سرو زرو يا سپينو زرو اشرفئ) قرض واخستې، کيدے شي هغه غريب وو، واپس يې نکړے شوې، د وعدې موده تيره

---

[1]...موسوعہ امام ابن ابی الدنیا، ذَمُّ الْغِیبَۃِ والنمیمہ، باب الغیبۃ وذمہا، جلد:4، صفحہ:353، حدیث:49ملتقطًا۔

[2]...ابوداوٗد، کتاب الادب، باب فی الغیبۃ، صفحہ:765، حدیث:4878۔

[3]...تاریخ بغداد، جلد:13، صفحہ:356ملتقطًا۔

شوه. يوه ورځ داسې اوشول چې اِمامِ اعظم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه چرته تشريف وړلو، مخامخ يې هغه کَس اوليدو. ځنګه چې هغه هغوئي ته اوکتل نو ويريدو او لاره يې بدله کړه. بيا چې کومې کوڅې ته هغه داخل شوے وو، هغه د بَل اړخ نه بنده وه. اِمامِ اعظم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه هم ورپسې وروستو تشريف يوړلو او پوښتنه يې ترينه اوکړه: زه چې دې اوليدم نو ولې ويريدلې؟ عرض يې اوکړو: ما باندې ستاسو قرض دے، د وعدې موده تيره شوې ده، زه ويريدم چې تاسو به قرض اوغواړئ، زه يې اوس نشم درکولے، ځکه زه ويريدم او لاره مې بدله کړه. دا يې چې واوريدل نو سخي امام، اِمامِ ابو حنيفه رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه اوفرمائيل: آيا لس زره هم څه داسې څيز دے چې د دې د پاره د چا مسلمان زړۀ پريشانه کړے شي، ځه! ما تا ته لس زره معاف کړې. (1)

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## تنګ لاسي له د مهلت ورکولو فضيلتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو د اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه د سخاوت او ښه سُلوک په باره کښې واوريدل چې هغوئي يو خو ښه سلوک اوکړو چې هغه له يې قرض ورکړو او کله چې هغه قرض اخستونکي قرض ورنکړے شو، هغوئي ته د راتلو کيدو نه هم ويريدو نو هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه خپل ټول مال کوم چې يې د قرض په طور ورکړے وو، ورته معاف يې کړو. يقيناً دا ډيره لويه قرباني ده، د دې اجر او ثواب هم زيات دے. **په حديثِ پاک کښې دي:** **چا چې لاس تنګي له مهلت ورکړو يا يې د هغه په قرض کښې کمے راوستو الله پاک به هغه د دوزخ د ګرموالي نه بچ کړي.** (2)

---

1... الخيرات الحسان، الفصل السابع عشر، صفحه: 57 ماخوذًا۔

2... مسندِ امام احمد، جلد: 2، صفحه: 332، حديث: 3071 ملتقطًا۔

په یو بَل روایت کښې داسې دي چې حضور سید عالم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم جومات ته داخلیدو وخت کښې دا اِرشاد اُوفرمائیلو: په تاسو کښې د چا دا خبره خوښه ده چې **اللّٰه** پاک هغه د دوزخ د ګرمۍ نه اوساتي؟ مونږه عرض اوکړو: یا رسول اللّٰه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم! په مونږ کښې هر یو دا خوښوي چې **اللّٰه** پاک یې د دوزخ د ګرمۍ نه بچ کړي. نو هغوئي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ارشاد اوفرمائیلو: **څوک چې لاس تنګي له مهلت ورکړي یا د هغه قرض معاف کړي اللّٰه پاک به هغه د دوزخ د ګرمۍ نه محفوظه کړي.** (1) په یو بَل روایت کښې یې اوفرمائیل: څوک چې د خپل مقروض پریشاني لرې کړي یا د هغه قرض معاف کړي نو هغه به د قیامت په ورځ د عرش په سورې کښې وي. (2)

د خوږ مصطفٰے کریم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمان مبارک دے: د قیامت په ورځ د عرش په سورې کښې ځائے موندلو والا وړومبے ګس به هغه وي څوک چې لاس تنګي له دومره مهلت ورکړي چې هغه د قرض ورکولو جوګه [یعني قابل] شي یا خپل قرض په هغه باندې صدقه کړي او اووائي: زما چې په تا باندې څومره قرض دے هغه د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره صدقه ده او د قرض رسید اوشلوي. (3)

سُبْحٰنَ اللہ! **اللّٰه** پاک دې مونږ ته داسې توفیق راعطا کړي! که مونږ په زړۀ کښې خیر خواهي پیدا کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د دِین او دُنیا د ډیرو زیاتو خیرونو حقدار به شو.

مِلا ہے زَر تو غریبوں کے کام بھی آؤ! | نہ جس سے خِدمتِ مخلوق ہو وہ دولت کیا ہے؟

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

1...موسوعہ ابن ابی الدنیا، اصطناع المعروف، الباب الثامن الرافقۃ فی المعسر، جلد:8، صفحہ:542، حدیث:10۔
2...ترمذی، کتاب البیوع، باب ماجاء فی انظار المعسر والرفق بہ، صفحہ:338، حدیث:1306 بتغیر قلیل۔
3...معجمِ کبیر، جلد:8، صفحہ:185، حدیث:15708۔

## د دښمن د پاره يــې دُعا اوفرمائيله

يو ځل چا حسد کوونکـي اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ ته ډيرې رَدې بَدې اووئيلې، خراب کنځل يــې اوکړل او ګمراه بلکې مَعَاذَالله! زنديق يــې ورته اووئيلو. اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ په جواب کښې ارشاد اوفرمائيلو: **الله** پاک دې تاسو معاف کړي، **الله** پاک ته پته ده چې تاسو زما په باره کښې څه وايئ زه داسې نه يم. د دومره فرمائيلو نه پس د هغوئي زړۀ راډک شو او د سترګو نه يــې اوښکې رواني شوې او اوئې فرمائيل: زه د **الله** پاک نه طمع لرم چې هغه ما ته معافي عطا کړي. آه! ما د عذاب ويره ژړوي. د عذاب خيال يــې چې راغلے نو فرياد يــې زيات شو او په ژړا ژړا بے هوشه شو او زمکې له يــې تشريف يوړلو. چې کله په هوش کښې راغلو نو دُعا يــې اوفرمائيله: يا **الله** پاکه! چا چې زما بد بيان کړل هغه معاف کړې. (1)

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** تاسو اوکتل د اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ ښه سلوک چې د بدو ردو ويوونکـي او د خرابو کنځلو کوونکـي سره يــې هم د ښه سلوک مظاهره اوکړه. **اے کاش!** چې مونږ هم د خپل امام په نقشِ قدم باندې د تللو کوشش اوکړو او څوک چې مونږ ته ردې بدې اووائي هغه معاف کړو.

## د ښه سلوک فضيلتونه

**(1): په حديثِ پاک کښې دي:** د نزدې خپلوانو سره ښه سلوک کول مال زياتوي، په خپل مينځ کښې محبت زياتوي او د عمر زياتيدو ذريعه ده. (2) **(2): په يو روايت کښې دي:** د خلقو سره نيکي کول د بد مرګ او آفتونو نه بچ کول کوي. بے شکه په دنيا کښې د

---

1 ...الخیرات الحسان، الفصل السادس عشر، صفحہ:55۔

2 ... معجمِ اوسط، جلد:6، صفحہ:11، صفحہ:7810۔

نیک سلوک کوونکو سره به په آخرت کښې نیک سلوک کولے شي. (1)

یا الٰہی! رشتے داروں سے کروں حُسنِ سُلوک
قَطعِ رِحمی سے بچوں اِس میں کروں نہ بھول چُوک

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## تهوله شپه عبادت

علّامه اِبنِ حجر هَیتَمِي شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ لیکي: د اِمامِ ابو حنیفه رحمۃُ اللہِ علیہ تهوله شپه عبادت کول او تَهَجُّد کول په تواتر [یعني پرله پسې] ثابت دي او هم دغه وجه ده چې په کثرت سره د قیام په وجه به هغوئي ته اَلْوَتَد یعني میخ وئیلے شو. هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ به تر دیرشو کالو پورې په یو رکعت کښې پوره قرآن لوستلو او هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ تر څلویښتو کالو پورې د ماسخُتن په اوداسه باندې د سحر نمونځ ادا کړو. (2) یو ځل د حضرت عبد الله بن مبارک رحمۃُ اللہِ علیہ په مخکښې یو کَس د اِمامِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ غیبت اوکړو نو هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ اوفرمائیل: په تا باندې افسوس دے چې ته د داسې کَس غیبت کوې چا چې تر 45 کالو پورې په یو اودس پینځه واړه نمونځونه ادا کړي دي او په یو رکعت کښې به یې د قرآنِ پاک ختم فرمائیلو او زما سره چې د فقهې کوم عِلم دے، هغه ټول ما د هغوئي نه حاصل کړے دے. (3) هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ به تهوله شپه په یو رکعت کښې قرآن شریف لوستلو او د الله پاک د ویرې نه به یې دومره ژړل چې د هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ د ګاؤنډیانو په زړنو کښې به هم په هغوئي باندې رحم راتللو. (4)

---

[1]...مستدرک، کتاب العلم، المعروف الی الناس...الخ، جلد:1، صفحہ:330، حدیث:437۔
[2]...الخیرات الحسان، الفصل الرابع عشر، صفحہ:50 ملتقطًا۔
[3]...الخیرات الحسان، الفصل الرابع عشر، صفحہ:50۔
[4]...الخیرات الحسان، الفصل الرابع عشر، صفحہ:50۔

## د شَعبَانُ الـمُعَظَّم يو څو عبادتونه

الله پاک دې مونږ ته په کثرت سره د عبادت کولو توفيق راعطا کړي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شَعبَانُ الـمُعَظَّم تشريف راوړے دے او مونږ د دې په برکتي ساعتونو کښې د ساه اخستو سعادت حاصلوو. شَعبَانُ الـمُعَظَّم ډيره د عظمت والا مياشت ده، په دې کښې خير او برکت راوريږي. طَيِّب او طاهِر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: شَعْبَانُ الْمُطَهِّرُ وَرَمَضَانُ الْمُكَفِّرُ شعبان پاکوونکې ده او رمضان کفاره ده. [1]

په دې مبارکه مياشت کښې د ډير ډير عبادت کوشش اوکړئ. د شَعبَانُ الـمُعَظَّم څلور ډير اهم عبادتونه دي، که زيات نه وي نو چې کم از کم مونږه د دې څلورو عبادتونو معمول جوړ کړو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به مو نصيب شي.

## (1): د دُرُود شريف کثرت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! شَعبَانُ الـمُعَظَّم زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مياشت ده. په **حديثِ پاک** کښې دي: شَهْرُ رَمَضَانَ شَهْرُ اللهِ وَ شَهْرُ شَعْبَانَ شَهْرِی رمضان د **الله** مياشت ده او شعبان زما مياشت ده. [2] دا د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم مياشت ده، ځکه په دې کښې د دُرُودِ پاک خاص طور کثرت کول پکار دي. سرکارِ غوثِ اعظم، شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: هُوَشَهْرُالصَّلَاةِعَلَى النَّبِيِّ يعني شعبان په جانِ جانان جانِ ايمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود لوستلو مياشت ده. [3]

لِهٰذا په دې مبارکه مياشت کښې د دُرُودِ پاک کثرت اوکړئ! **په حديثِ پاک کښې**

---

1...جامع صغير، صفحه:301، حديث:4903-

2...جامع صغير، صفحه:301، حديث:4903-

3...غنية طالبی، مجلس فی فضل شهر شعبان، جلد:1، صفحه:342-

دي: يو ځل دُرُود شريف لوستونکي باندې لس رحمتونه نازليږي، د هغه لس درجې اوچتيږي د هغه د پاره لس نيکۍ ليکلے کيږي د هغه لس ګناهونه ورانولے کيږي. (1)

## (2): تلاوت کول

هُم داسې د قرآنِ پاک تلاوت هم د شَعبَانُ الـمُعَظَّم اهم عبادت دے بلکې په بعضې روايتونو کښې د شَعبَانُ الـمُعَظَّم نوم هُم "شَهرُ القُرآن" (يعنې د قرآن د تلاوت مياشت) کيښودلے شوے دے، په يو روايت کښې دي: شَعبَانُ الـمُعَظَّم د اللّٰه پاک په حُضُور کښې عرض اوکړو: يا رَبَّ! تا زه د دوو عظمتونو والا مياشتو (رجب او رمضان) په مينځ کښې ساتلې يم، زما د پاره څه دي؟ اوئې فرمائيل: ما په تا کښې د قرآن تلاوت کيښودے دے. (2)

په روايت کښې دي: د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنھم معمول وو چې څنګه به شَعبَانُ الـمُعَظَّم راغله نو په پوره توجه سره به د قرآن په تلاوت کښې مصروفه شول. (3) د شعبان مياشت شَهرُالقُرآن (يعنې د قرآن د تلاوت مياشت) هم ده.

کاش چې زمونږه هم توفيق نصيب شي، مونږه هم په دې مبارکه مياشت کښې په کثرت سره تلاوت کوونکي جوړ شو. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

دے شوقِ تلاوت دے ذَوقِ عبادت
رہوں باوُضو میں سدا یاالٰہی! (4)

1...ترمذی، کتاب الوتر، باب فی فضل الصلاۃ علی النبی، صفحہ:144، حدیث:484-
2...لطائف مَعَارِف، صفحہ:186-
3...لطائف مَعَارِف، صفحہ:186-
4...وسائلِ بخشش، صفحہ:102-

## (3): نفل روژې

د شَعبَانُ الـمُعَظَّم درېم اهم عبادت نفل روژې دي. خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به د رَمَضَانُ المُبَارَك نه پس د ټولو نه زياتې روژې نيول په شَعبَانُ الـمُعَظَّم کښې خوښولې. د مسلمانانو خوږه مور جانه، حضرت عائشه صِدِّيقه رضی اللہ عنہا فرمائي: د الله پاک آخري نبي، مکي مَدَني صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ما د شعبان نه زيات په بَله مياشت کښې په روژو نيولو نه دے ليدلے، هغوئي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به د يو څو ورځو نه علاوه ټوله مياشت روژې نيولې.[1] يو ځل د هغوئي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په خدمت کښې پوښتنه اوشوه: د رمضان نه پس کومې روژې افضل دي؟ اوئې فرمائيل: **د رمضان د تعظيم د پاره د شعبان روژې نيول.** [2]

## د نفلي روژو مختصر فضيلتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په حديثونو مبارکو کښې د نفلي روژو ډېر فضيلتونه بيان شوي دي. **درې روايتونه بيانووم:** (1): چا چې د ثواب د اُمّيد لرلو سره يوه نفلي روژه اونيوله **الله** پاک به هغه د دوزخ نه د څلويښتو [40] کالو (په فاصله) لرې کړي.[3] (2): که چا يوه ورځ نفلي روژه اونيوله او د ټولې زمکې سره زر هغه له ورکړے شي نو بيا به هم د دې ثواب پوره نه شي د دې ثواب خو به د قيامت په ورځ ميلاويږي.[4] (3): چا چې يوه ورځ نفلي روژه اونيوله **الله** پاک به هغه د دوزخ نه دومره لرې کړي څومره چې د زمکې او آسمان ترمينځه فاصله ده.[5]

---

1...ترمذی، کتاب:الصوم، باب:ماجاءفی وصال شعبان برمضان، صفحہ:206، حدیث:736-
2...ترمذی، کتاب:زکوٰۃ، باب:فضیلتِ صدقہ، صفحہ:189، حدیث:663-
3...کنزالعمال، جز:8، جلد:8، صفحہ:255، حدیث:24148-
4...مسندابی یعلی، مسندابوہریرہ، جلد:4، صفحہ:459، حدیث:6123-
5...معجم کبیر، جلد:7، صفحہ:49، حدیث:13742-

## (4): د اِستغفار کثرت

خلورم اهم عبادت کوم چې په شَعبَانُ المُعَظَّم کښې کول پکار دي هغه توبه او اِستغفَار دے، په دې کښې حکمت دا دے چې د شَعبَان د میاشت چې څومره عظمت دے، هغه همره ډېره نازکه هم ده، په حديثِ پاک کښې دي: دا هغه میاشت ده د کومې نه چې خلق غافله دي حالانکې په دې کښې د خلقو اَعمَال د رُبُّ العالمین په بارګاه کښې پیش کولے شي. [1] ❁ په دې میاشت کښې ملک الموت علیہ السلام له د هغه ټولو لِسټ ورکولے شي، د چا چې به په راتلونکې کال کښې رُوح قبض کولے شي. [2] ❁ د دې مبارکې میاشتې په پینځلسمه شپه الله پاک د بَنُو کَلب د چیلو د وېښتو برابر خلقو ته بخښنه کوي او هغوئي د دوزخ نه آزادوي. [3]

الله پاک دې په دې مبارکه میاشت کښې مونږ ته د ډېر زیات اِستغفار کولو توفیق راعطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلی اللہ علیہ والہ وسلم

بَراءَت دے عذابِ قبر سے نارِ جہنم سے | مہِ شعبان کے صدقے میں کر فضل و کرم مولیٰ [4]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: درس

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په زړه کښې د مدینے د عشق زیاتولو، د مدینے یادولو، د مدینے د ذِکر کولو، د ګناهونو او فضولیاتو نه د بچ کیدو، د ښه، بامقصده، د

---

1...مسندِ احمد، جلد:36، صفحه:85، حدیث:21753-

2...جامع صغیر، صفحه:369، حدیث:5964-

3...الترغیب والترهیب، کتاب الصوم، باب الترغیب فی صوم شعبان، صفحه:351، حدیث:11-

4...وسائلِ بخشش، صفحه:98-

سنتو او نیکو والا ژوند تیرولو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ او په 12 دیني کارونو کښې هم ښه په شوق سره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په دنيا او آخرت کښې به بے شمیره برکتونه درنصیب شي. د دعوتِ اسلامي په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **درس** هم دے.

❁ **عِلمِ دِین زده کول د مصطفٰے کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم سنت دے:** ❁ زمونږ خوږ نبي، مکي مدني صلی اللہ علیہ والہ وسلم به عِلمِ دِین ښودلو او ❁ صحابهٔ کرامو علیهم الرضوان به زده کولو [(1)]

❁ د لویو لویو اولیائے کرامو او د اُمت د علمائے کرامو هم دغه معمول دے.

❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې نیک کار کولو سعادت حاصلوي ❁ په خپلو خپلو کورونو کښې، په جماتونو کښې، په بازارونو او چوکونو وغیره کښې درس ورکوي او ثوابونه گټي ❁ تاسو هم په دې کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ❁ د عِلمِ دِین زده کولو موقع به درنصیب کیږي ❁ په نیک صحبت کښې به پاتې کیدل درنصیب کیږي ❁ که د کور نه په درس کښې د شرکت کولو په نیت سره روان شئ نو د عِلمِ دِین په لاره کښې د تللو ثواب به درته میلاویږي ❁ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! مخلوقات تر دې پورې چې په دریاب کښې میهان [کبان] به هم ستاسو د پاره دعاگانې کوي او څه پته چې د درس کومه خبره زمونږ په زړه باندې اثر اوکړي او په ژوند کښې مو انقلاب راولي.

## د هوټل ښکلا جوړیدونکے ځلمے

د حیدر آباد، سندھ اوسیدونکے یو اسلامي ورور خپله واقعه څه داسې بیانوي: زه په گناهونو کښې داسې اخته ووم چې زما سره د خپل ژوند د قیمتي وختونو د بربادیدو هډو فِکر نه وو، د معمول مطابق هٔغه ورځ هم زه په هوټل کښې موجود ووم او

1...مرآۃ المناجیح، جلد:3، صفحه:239۔

په تېي وي کښې چليدونکو فلمي نظارو کښې ورک ووم چې په دې کښې د سنتو مطابق جامې اغوستې يو اسلامي وررور زما خوا له راغلے او په ګرم جوشۍ سره ئې ما سره د لاس ملاووولو نه پس ماته اووئيل: وررور جانه بهر چوک درس کيږي. تاسو يو څو منټه راکړئ اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! ډيرې نيکۍ به حاصلې کړئ. زه د هغوئي د ښو اخلاقو او عاجزۍ نه ډير متاثره شوم او سمدستي ورسره روان شوم. د هوټل نه بهر يو اسلامي وررور د **فيضانِ سنّت** نه درس ورکولو، د نورو اسلامي وروڼو په شان زه هم په درس اوريدو کښې مصروف شوم، درس چې مې واوريدو نو زما په زړه ئې ډير زيات اثر اوکړو، ما د زړه د اخلاصه توبه کړه او د اسلامي وروڼو صحبت مې اختيار کړو، د دې په برکت ماته کله د سنتو په اجتماع کښې د شرکت سعادت، نو کله راته په مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره سفر نصيب کيدلو. په مزه مزه زه ديني ماحول ته نزدې کيدم، آخر د هوټلو ښکلا جوړيدونکے ځلمے د درس په برکت نن اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقان رسول سره په جمات کښې شپې تيرولو والا جوړ شو. [1]

| |
|---|
| اِسی ماحول نے ادنیٰ کو اعلیٰ کر دیا دیکھو | اُجالا ہی اُجالا ہی اُجالا کر دیا دیکھو |

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**نوټ:** اوس د مَدَني ماحول په ځائے د ديني ماحول اصطلاح ده.

## فيضانِ حديث موبائل ايپلي کيشن

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن په نوم د "**فيضانِ حديث**" په ***Play Store*** او ***App Store***

---

[1] ...میں نے ویڈیو سینٹر کیوں بند کیا، صفحہ:12 ملخصًا۔

وړاندې کړے شوے دے. په دې ایپلي کیشن کښې د **حدیثِ پاک** مشهور کتابونه مثلاً ❁ مِشْکٰوۃُ الْمَصَابِیْح او د دې آسانه اُردو شرح مِرْاٰۃُ الْمَنَاجِیْح ❁ الأربَعِیْنِ النّووِیَّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ رِیاضُ الصَّالِحِین د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ أَربَعِیْنِ حَنَفِیَّه (اردو) ❁ او مُنْتَخَب اَحَادِیث شامل کړے شوي دي. ❁ د دې ایپلي کیشن په مدد تاسو حدیثونه مبارک په کتابي شکل کښې (یعني د جلدونو په لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو په لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❁ د سرچ آپشن په مرسته پوره کتاب یا په یو حدیث کښې مختلف لفظونه او ټوله جُمله او د **حدیثِ پاک** د عربۍ لفظونه، د هغې ترجمه او په شرح کښې بیل بیل هم لټولے شئ ❁ د **حدیثِ پاک** د عربۍ متن د اعراب سره او د اعراب نه بغیر، په دواړه قِسم د کتلو سهولت کېښودے شوے دے ❁ د لوستلو د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حدیثونو د ***Favorite*** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ❁ د مختلف فاؤنټس ***Fonts*** او د حدیثونو د شیئر ***Share*** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے.

هم نن په خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله هم د **حدیثِ پاک** فیضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغیب ورکړئ!

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د څینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره

وي.[1]

ہر کام شریعت کے مطابِق میں کروں کاش! | یاربّ! تو مبلّغ مجھے سُنّت کا بنا دے (2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مسواک کولو سُنَّت او آداب

د آخري نبي، رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامین: (1): دوه رکعته د مسواک سره ادا کول بغیر د مسواک نه د 70 رکعتونو نه افضل دي.[3] (2): د مسواک استعمال د ځان د پاره لازم کړئ ځکه چې په دې کښې د خُلې صفائي [ده] او [دا] د الله پاک د رضا سبب دے.[4]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ❁ حُضور نبي پاک صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هره شپه مسواک کولو، هر ځل د اوده کیدلو په وخت هم او د بیداریدلو په وخت هم ❁ بغیر د ښه نیت نه د مسواک کولو سره به طِبي فائدې خو حاصلې شي خو ثواب به نه میلاویږي، مثلاً که د اوداسه د پاره مسواک کول وي نو دا درې نیتونه اوکړئ: د الله پاک د رضا، د سُنَّت ادا کولو او د ذِکر او درود د پاره د خُلې پاکولو په غرض مسواک کووم ❁ مشائخِ کرام فرمائي: کوم کَس چې د مسواک عادت لري په ځنکدن کښې به ورته کلمه وئیل نصیب کیږي ❁ د حضرت عبد الله ابن عباس رضی اللہ عنہما نه روایت دے چې په مسواک کښې 10 خوبیانې دي: خُله صفا کوي، ورئ مضبوطوي، نظر تیزوي، بلغم لرې کوي، د خُلې بدبوئي ختموي، د سُنَّت موافق دے، د مسواک کولو سره فرښتې

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:115۔
3...اَلتَّرغِیب وَالتَّرہِیب، کتاب:الطہارۃ، الترغیب فی السواک، صفحہ:86، حدیث:18۔
4...مسند امام احمد، جلد:2، صفحہ:438، حدیث:5869۔

خوشحاليږي، د مسواک کولو سره رَبّ تعالیٰ راضي کيږي، مسواک نيکۍ زياتوي او معده صحيح کوي ✿ مسواک په ښي لاس کښې داسې نيسئ چې قچۍ ګوته د دې نه لاندې او د مينځ درې ګوتې بره او غټه ګوته يې په سر وي ✿ مسواک چې کله د استعمال قابل پاتې نه شي نو غورځوئ يې مه ځکه چې دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، په احتياط سره يې په يو ځائے کښې کيږدئ يا يې ښخ کړئ يا يې د کاڼي وغيره وزن سره اوتړئ او سمندر (يا سيند وغيره) کښې يې ډوب کړئ. (1)

ياد ساتئ! د روژې په حالت کښې هم مسواک کول سُنّت دي، **البته** که د مسواک جوولو په وخت ترينه ريشې شوکيږي يا يې خوند محسوسيږي نو داسې مسواک نه دي کول پکار. (2)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو
رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کُھلیں، قافلے میں چلو (3)

**الله** پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

---

1... 550 سنتیں اور آداب، صفحہ: 47-50۔
2... فتاویٰ رضویہ، جلد: 10، صفحہ: 511۔
3... وسائلِ بخشش، صفحہ: 670-671 ملتقطاً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃُ اللهِ عليه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی الله عنه تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی الله عنهم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث: ۳۰

2 ... مجمع الزوائد، کتاب الادعیۃ، باب فی کیفیۃ الصلاۃ ... الخ، ۲۵۴/۱۰، حدیث: ۱۷۳۰۵

3 ... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حدیث: ۴۴۱۵